❖❖❖

# د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې او متوازن بهرني سیاست تحلیلي څېړنه

دکتور محمد جاوید فدائي*


## لنډیز

*دا مقاله د افغانستان اسلامي امارت رسمیت پېژندنه د نړیوالو حقوقو او ډیپلوماسۍ له زاویې څېړي. اسلامي امارت چې د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې واک ته ورسېد؛ خو لا تر اوسه د بشپړ رسمیت پېژندنې له ننګونو سره مخ دی. سره له دې چې ګڼ شمېر دولتونه له اسلامي امارت سره په عملي کچه ډیپلوماتیک تعامل لري؛ خو یوازې د روسیې فدراسیون تر دې دمه په ښکاره توګه اسلامي امارت په رسمیت پېژندلی دی، چې دا اقدام د اسلامي امارت لپاره د نړیوالو اړیکو په ډګر کې د پام وړ بدلون بلل کېږي. څېړونکي هڅه کړې چې د دولت د رسمیت پېژندنې په رڼا کې د اسلامي امارت حقوقي وضعیت وارزوي او د مشروع دولت په حیث په نړیواله ټولنه کې د افغانستان څېره روښانه کړي. همدارنګه، دا څېړنیزه مقاله د اسلامي امارت بهرنی تګلاره تحلیلوي، چې د ملي ګټو پر محور ولاړه ده او د نړیوالو قدرتونو ـ لکه امریکا، روسیې او چین ـ سره متوازن تعامل لري. سربېره پردې، د سیمه‌ییزو سیالانو لکه هند او پاکستان، ایران او سعودي عربستان ترمنځ د تعامل توازن ساتنې ته اشاره کوي، چې په پایله کې یې افغانستان د بهرنیو سیالیو څخه خوندي دی. د څېړنې اساسي پوښتنه دا ده چې اسلامي امارت څرنګه د بشپړ نړیوال رسمیت په نشتوالي کې خپل بهرنی سیاست پر مخ وړي او متوازن ډیپلوماتیک تعامل لري. دا څېړنیزه مقاله د تحلیلي-توصیفي میتود له لارې د حقوقي اسنادو، سیاسي اړیکو او سیمه‌ییزو دریځونو پر بنسټ استدلال کوي. د څېړنې پایلې څرګندوي چې اسلامي امارت د نړیوالې ډیپلوماسۍ په ډګر کې نسبي بریاوې ترلاسه کړې، بهرنی سیاست یې اقتصادمحوره او متوازن دی او په پرله‌پسې ډول هڅې کوي چې د نړیوالې ټولنې له‌خوا بشپړ رسمیت ترلاسه کړي.*


***کلیدي ټکي:*** *اسلامي امارت، رسمیت پېژندنه، بهرنی سیاست، توازن، نړیوال حقوق، ډیپلوماسي.*

---

*لیکوال، ژباړن او څېړونکی چې د فقه او قانون په برخه کې لیسانس، په نړیوالو حقوقو کې ماسټري او په نړیوالو اړیکو کې د دکتورا تر کچې لوړې زده‌کړې لري. نوموړي د «ډیپلوماتیک لارښود» په نوم شاوخوا ۷۰۰ پاڼیز کتاب له عربي څخه پښتو ته ژباړلی چې تازه چاپ شوی دی. همدارنګه، لس څېړنیزې مقالې یې په انګلیسي، ترکي او پښتو ژبو لیکلې چې یو شمېر یې په نړیوالو ژورنالونو کې خپرې شوې او نورې یې د نشر په پروسه کې دي. نوموړی د افغانستان او سیمې د جیوپولیتیکي وضعیت په اړه په چاپي او برېښنایي رسنیو کې وخت پر وخت لیکنې کوي.

## سریزه

د دولتونو د رسمیت پېژندنې مسئله د معاصرو نړیوالو حقوقو په ډګر کې له خورا پېچلتیاوو، حقوقي بحثونو او سیاسي حساسیتونو ډکه ده. دغه بحث په ځانګړي ډول هغه مهال لا ډېر جنجالي کېږي، چې یو نوی دولت د اوږدو جګړو، ژورو سیاسي بدلونونو یا ناڅاپي پوځي کودتاوو په پایله کې واک ته ورسېږي. د نړیوالو حقوقو د معیار له مخې په داسې حالاتو کې یوازې د جغرافیې یا واکمنۍ شتون د مشروعیت د تضمین لپاره بسنه نه کوي؛ بلکې د نړیوالو حقوقي اصولو، سیاسي مصلحتونو او د لویو قدرتونو دریځونه د رسمیت پېژندنې په بهیر کې اساسي رول لوبوي (Visoka, 2022). له همدې امله، د رسمیت پېژندنې موضوع نه یوازې د حقوقي مباحثو یوه برخه ده؛ بلکې نړیواله ډیپلوماسي او سیمه‌ییزه همغږي د دغه سیاسي لوبې مهم فکتورونه ګڼل کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت چې د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې د شل کلن جمهوریت له سقوط وروسته واک ته ورسېد، د معاصر نړیوال نظم په چوکاټ کې د رسمیت پېژندنې یوه مهمه قضیه ده. سره له دې چې اسلامي امارت د هېواد پر ادارو، قلمرو او امنیتي جوړښتونو بشپړ کنټرول لري؛ خو لا هم د نړیوالې رسمیت پېژندنې له ننګونو سره مخ دی. ډېری دولتونه له امارت سره غیر رسمي یا عملي تعاملات لري؛ خو یوازې د روسیې فدراسیون تر دې دمه په څرګنده توګه د امارت څرګنده یا ډي‌جوري رسمیت پېژندنه کړې، چې دا د نړیوالو تعاملاتو په ډګر کې یو مهم تحول ګڼل کېږي (Smagin, 2025).

که څه هم د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې او بهرني سیاست په اړه بېلابېلې څېړنې ترسره شوې دي؛ خو د دولت او حکومت د رسمیت پېژندنې ترمنځ دقیق تفکیک لا هم یوه بنسټیزه ستونزه پاتې ده، چې ګڼ لوستونکي یې له فکري ګډوډۍ سره مخ کړي دي. د همدې ستونزې له امله د دې څېړنې ارزښت په دې کې نغښتی

دی چې د دولت او حکومت رسميت پېژندنه د حقوقي اصولو او سياسي واقعيتونو پر بنسټ څرګنده او د اسلامي امارت د بهرني سياست ارزونه وکړي. په نړيوالو حقوقو کې د دولت رسميت پېژندنه له پخوا راهيسې د يو رسمي حقوقي عمل په توګه تعريف شوې ده؛ خو د حکومت رسميت پېژندنه دا بهير تر ډېره د سياسي ګټو، ستراتېژيکو محاسبو او د دولتونو ترمنځ د قدرت د توازن تر اغېز لاندې وي. رسميت پېژندنه يوازې د مشروعيت د اعلان معنا نه لري؛ بلکې د سياسي ابزارو په توګه هم کارول کېږي چې د رسميت ورکوونکو لوبغاړو لومړيتوبونه او ارزښتونه منعکسوي. همدا دوه‌ګونی ماهيت د حاکميت د حقوقي اصولو او د نړيوالو اړيکو د سياسي واقعيتونو ترمنځ کړکېچ رامنځته کوي او دا مسئله بيانوي چې په معاصر نړيوال نظم کې د رسميت پېژندنې واقعي معيارونه کوم دي (Borangaziyev, 2025).

د افغانستان اسلامي امارت د رسميت پېژندنې قضيه د دغه پاراډوکس «تناقض» روښانه بېلګه ده، چې تر اوسه يې نړيوال رسميت نه دی ترلاسه کړی؛ خو د دوه‌اړخيزو اړيکو، سيمه‌ييزو ناستو او د نړيوالو سازمانونو له چوکاټونو سره د تعامل له لارې يې د ډيپلوماسۍ هڅو دوام موندلی دی. دا وضعيت ښيي چې د نړيوال رسميت نشتوالی په نړيوالو چارو کې د يو سياسي واحد د فعاليت مخنيوی نه کوي. له همدې امله د څېړنې اساسي پوښتنه مطرح کېږي چې د افغانستان اسلامي امارت رسميت پېژندنه تر کومو حقوقي، سياسي او ستراتېژيکو عواملو پورې تړلې ده او د نړيوال رسميت نشتوالی د امارت پر متوازن بهرني سياست او په نړيوال نظام کې پر ګډون څه ډول اغېزې لري؟

د دې ترڅنګ، بهرنی سياست چې تل د يو دولت د ملي ګټو په رڼا کې رامنځته کېږي، په نړيوال سټيج د اړوند دولت د موخو په ترلاسي کې بارز رول لوبوي (Morgenthau, 2006). د اسلامي امارت بهرنی سياست د ملي ګټو پر محور ولاړ دی او هڅه کوي له نړيوالو قدرتونو لکه امريکا، روسيې او چين سره متوازن تعامل وساتي.

همدارنګه، له سیمه‌ییزو سیالانو لکه هند او پاکستان، ایران او سعودي عربستان سره د توازن ساتنې سیاست غوره شوی، ترڅو افغانستان یو ځل بیا د بهرنیو سیالیو ډګر و نه ګرځي (Kaura, 2024). دا ستراتیژي د افغانستان اسلامي امارت د خپلواکۍ او اسلامي هویت ساتنې او د نړیوالو فشارونو پر وړاندې د مقاومت څرګندونه کوي.

د دې مقالې د لیکنې لپاره توصیفي-تحلیلي میتودولوژي کارول شوې، چې حقوقي اسناد، سیاسي تعاملات او سیمه‌ییز دریځونه پکې تحلیل شوي دي. لومړنۍ سرچینې نړیوال حقوقي اسناد، د دولتونو رسمي اعلامیې او د دولتونو ترمنځ ډیپلوماتیک تعاملات دي. دوهمې سرچینې علمي مقالې، د پالیسۍ تحلیلونه او باوري خبري راپورونه دي. دا سرچینې یو له بله سره پرتله شوې، ترڅو د څېړنې دقت، اعتبار او تحلیل تضمین کړي. د دې ترڅنګ، څېړنه د مقالې په لنډیز سره پیل شوې چې په سریزه کې موضوع په عمومي بڼه مطرح شوې ده او بیا د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه، د دولت او حکومت رسمیت پېژندنه، د لویو قدرتونو او سیمه‌ییزو رقیبانو ترمنځ توازن ساتل، د ملي ګټو پر بنسټ د بهرنۍ پالیسۍ عیارول او د افغانستان اسلامي امارت د بهرني سیاست تحلیلي ارزونه او پایله باندې څېړنه پای ته رسېدلې ده.

### ۱ .د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې حقوقي او سیاسي ابعاد

د افغانستان اسلامي امارت رسمیت پېژندنه د نړیوالو حقوقو او سیاسي تعاملاتو په چوکاټ کې یوه مهمه او پېچلې موضوع ده، چې په نړیواله کچه د دولت د مشروعیت او تعامل ارزونه کوي. له ۲۰۲۱ کال راهیسې چې اسلامي امارت واک ته رسېدلی، د رسمیت پېژندنې لپاره یې پراخې هڅې کړې دي (Borangaziyev, 2025). سره له دې چې ډېرى دولتونه له امارت سره غیر رسمي یا عملي تعاملات لري؛ خو یوازې د روسیې فدراسیون تر دې دمه په څرګنده توګه په رسمیت پېژندلی دی، چې دغه اقدام د افغانستان اسلامي امارت د بهرنۍ تګلارې مهمه لاسته راوړنه ګڼل کېږي (Drury & Wilson, 2025).

په نړیوالو حقوقو کې د دولت رسمیت پېژندنې موضوع د قانوني اصولو او سیاسي واقعیتونو ترمنځ حساس پُل جوړوي. د دې مفکورې بنسټ دوه مهمې تشکیلي او اعلاني نظریې ګڼل کېږي. د تشکیلي نظریې له مخې، یو دولت تر هغه مهاله بشپړ نړیوال حقوقي شخصیت نه مومي، ترڅو نور دولتونه یې په رسمیت و نه پېژني؛ یعنې رسمیت پېژندنه د نوي دولت د زېږېدو وسیله او د نړیوال وجود بنسټ بلل کېږي. بلخوا د اعلاني نظریې له مخې، د دولت رسمیت پېژندنه یوازې د موجود واقعیت منل دي (Sayyed, 2023). که یو سیاسي جوړښت چې ټاکلی قلمرو، دایمي نفوس، مؤثره اداره او د نړیوالو اړیکو وړتیا ولري؛ نو د دولت د رسمیت پېژندنې قانوني حق لري. دا چې نور دولتونه یې په رسمیت پېژني او که نه، دا بیا د سیاست او مصلحت موضوع ده چې د هر دولت په سیاسي موخو پورې تړاو لري.

د پورتنیو نظریو له مخې، افغانستان په نړیواله کچه د دولت جوړونې ټول حقوقي معیارونه پوره کړي دي او په نړیواله ټولنه کې د مشروع دولت په حیث پېژندل کېږي. بلخوا، د افغانستان حکومت چې اسلامي امارت دی، د بشپړ نړیوالې رسمیت پېژندنې له ستونزې سره مخ دی. اسلامي امارت ټاکلی قلمرو او نفوس لري، مؤثره اداره پرځای فعاله ده او له ګڼو دولتونو سره د اړیکو وړتیا یې په عملي توګه ښکاره کړې ده. له همدې امله، ویلای شو چې افغانستان په نړیواله ټولنه کې یو مشروع دولت دی او اسلامي امارت د افغانستان د مسئول حکومت په حیث د رسمیت پېژندنې مستحق دی؛ خو د نړیوالو سیاسي مصلحتونو او د تګلارو د توپیرونو له امله تر اوسه بشپړ نړیوال رسمیت نه لري، ترڅو په نړیواله ټولنه کې د نورو دولتونو په حیث ښکاره شي (Aziz & Rashid, 2025).

د رسمیت پېژندنې موضوع یوازې حقوقي نه ده؛ بلکې سیاسي اړخونه هم لري. د دولتونو تعامل، د نړیوالو سازمانونو دریځ او د سیمه‌ییزو قدرتونو ستراتیژۍ د رسمیت پېژندنې پر پروسه اغېز لري. د ښه نیت اصل چې د دولتونو ترمنځ د تعامل اساس ګڼل

کېږي د رسمیت پېژندنې په پروسه کې مهم رول لري، چې له مخې یې دولتونه باید د یو نوي نظام د مشروعیت ارزونه په انصاف، دقت او اصولو سره ترسره کړي (Zeng, 2020). اسلامي امارت له ګڼو دولتونو سره د تعامل، تفاهم او همکارۍ له لارې د رسمیت د ترلاسي هڅې کوي، چې دا له نړیوالو اصولو سره همغږې عمل دی.

د اسلامي امارت قضیه د دې موضوع لپاره یو مهم چوکاټ برابروي چې څنګه د دولتونو مشروعیت، نړیوال تعامل او د بېلابېلو حقوقي نظامونو شتون او منل کېدل په معاصر نړیوال نظام کې تحلیل شي. دا تعاملات ښیي چې رسمیت پېژندنه یوازې حقوقي اقدام نه دی؛ بلکې یو سیاسي، حقوقي او ستراتیژیک تعامل دی، چې د دولتونو د خپلواکو پرېکړو، د نړیوالو اصولو او د متقابل احترام پر بنسټ ترسره کېږي (Shekhawat & Vyas, 2024). اسلامي امارت د خپل منظم حکومت د تعامل پر بنسټ د بهرني سیاست او د نړیوالو اړیکو له لارې د رسمیت ترلاسي لپاره پر مخ روان دی او دا د نړیوالو حقوقو په چوکاټ کې یو مهم پرمختګ ګڼل کېږي.

## ۱،۱. د دولت او حکومت د رسمیت پېژندنې حقوقي بنې

د دولت او حکومت رسمیت پېژندنه د نړیوالو حقوقو یو بنسټیز اصل دی، چې د حاکمیت، مشروعیت او نړیوال تعامل حقوقي او سیاسي بڼه ټاکي. مخکې له دې چې د دولت او حکومت د رسمیت پېژندنې موضوع وڅېړل شي، اړینه ده چې د دواړو ترمنځ حقوقي توپیرونه څرګند شي، ترڅو لوستونکي وکولی شي د دولت او حکومت د رسمیت پېژندنې مفکوره په روښانه او دقیقه توګه درک کړي.

په نړیوالو حقوقو کې دولت او حکومت دوه جلا مفاهیم دي، که څه هم په ورځنیو چارو کې ډېر ځله یو له بل سره ګډ کارول کېږي؛ خو په حقوقي لحاظ هر یو بېل او ځانګړی مفهوم لري (Robinson, 2013). دولت یو دایمي حقوقي جوړښت دی چې ټاکلی قلمرو، دایمي نفوس، حاکمیت او اغېزمنه اداره لري. دا جوړښت د نړیوالو حقوقو

تابع دی او د حکومتونو د بدلون له امله له منځه نه ځي؛ یعنې که حکومت بدل شي، دولت بیا هم خپل حقوقي حیثیت او نړیوال شخصیت ساتي (Rim, 2021). بلخوا، حکومت د دولت مؤقتي اجرایي جوړښت دی، چې د قوانینو پلیتوب، د بهرنیو اړیکو تنظیم، د عامه چارو او خدمتونو سمون یې دنده ده. حکومتونه د ټاکنو، کودتاوو یا سیاسي بدلونونو له لارې بدلېږي؛ خو دا بدلونونه د دولت د حقوقي دوام پر ورانديې هېڅ اغېز نه لري. لنډه دا چې دولت د بقا او قانوني ثبات نښه ده؛ خو حکومت د ادارې او واکمنۍ عملي بڼه ده، چې دولت کُل او حکومت یې جُز ګڼل کېږي (Rim, 2021).

د دولت د رسمیت پېژندنې لپاره په نړیوالو حقوقو کې ځانګړي او څرګند شرایط ټاکل شوي دي. دغه شرایط له ټاکلي قلمرو، دايمي نفوس، واکمن حکومت او سیاسي خپلواکۍ څخه عبارت دي. که یو دولت له دغو څلورو عناصرو یو هم و نه لري؛ نو د نړیوالو حقوقو له مخې د رسمیت پېژندنې حق نه لري (Malik, 2021). بلخوا، حکومت بیا د دولت یو مهم عنصر ګڼل کېږي، چې په ټاکلي قلمرو بشپړ تسلط لري او خپلې پرېکړې په خپلواک ډول عملي کوي. حکومت د درېیو اساسي عناصرو پر بنسټ جوړ شوی چې له مقننه قوې، اجرائیه قوې او قضائیه قوې څخه عبارت دي. د حکومت رسمیت پېژندنه د دولت له رسمیت پېژندنې سره توپیر لري؛ ځکه د حکومت د رسمیت پېژندنې لپاره په نړیوالو حقوقو کې هېڅ ځانګړي قانوني شرایط نه دي ټاکل شوي او دا پروسه په بشپړه توګه سیاسي بڼه لري، چې د دولتونو تر مصلحتونو او سیاسي ارزښتونو پورې تړلې ده (Malik, 2021).

د حکومت د رسمیت پېژندنې په حقوقي بحثونو کې دوه مفاهیم ډي‌فکټو او ډي‌جوري شتون لري. ډي‌فکټو رسمیت پېژندنه چې ضمني رسمیت پېژندنه باندې هم پېژندل کېږي، هغه حالت ته ویل کېږي چې یو حکومت یا واکمنه اداره په عملي توګه د یو هېواد کنټرول په لاس کې لري؛ خو لا تراوسه یې نړیوال رسمیت نه وي

ترلاسه کړي. بلخوا، ډي‌جوري رسمیت پېژندنه چې څرګنده یا علني رسمیت پېژندنه باندې هم پېژندل کېږي، هغه حالت دی چې یو حکومت د نړیوالو حقوقي اصولو او د حکومت د رسمیت پېژندنې پروسې له مخې په رسمي ډول د نورو دولتونو له خوا منل شوی وي. په بل عبارت، ډي‌فکتو د واقعیت پر بنسټ د واکمنۍ څرګندونه کوي، حال دا چې ډي‌جوري د قانوني او رسمي مشروعیت څرګندونه ده (Malik, 2021). د دواړو ترمنځ توپیر د نړیوالو اړیکو او بهرني سیاست په تحلیل کې ډېر مهم دی؛ ځکه ځینې حکومتونه ښایي د اوږدې مودې لپاره یوازې ډي‌فکتو موجودیت ولري؛ خو د نړیوال رسمیت یا ډي‌جوري له نشتوالي سره مخ وي.

د افغانستان اسلامي امارت د نړیوالې رسمیت پېژندنې قضیه د ډي‌جوري او ډي‌فکتو تعامل ترمنځ د توپیر یو معاصر او څرګند مثال وړاندې کوي. اسلامي امارت چې په ۲۰۲۱ کال کې واک ته ورسېد، ډېرو دولتونو ډي‌فکتو تعامل ته مخه کړه چې بشري مرستې، قونسلي خدمتونه او محدود ډیپلوماتیک تماسونه یې پیل کړل؛ خو د ډي‌جوري رسمیت پېژندنې له اعلان څخه یې ډډه وکړه. په دې لړ کې، د روسیې فدراسیون په ۲۰۲۵ کال کې د اسلامي امارت حکومت د رسمیت پېژندنې اعلان وکړ، چې دا هېواد د اسلامي امارت د ډي‌جوري رسمیت پېژندنې په برخه کې لومړی دولت و (Shamim, 2025).

دا تحول د افغانستان اسلامي امارت لپاره د بهرني سیاست په چوکاټ کې یوه ستراتیژیکه لاسته‌راوړنه ګڼل کېږي؛ ځکه چې دا نه یوازې د مشروعیت د نړیوالو بحثونو یوه نوې مرحله پرانیزي؛ بلکې د نړیوالو حقوقو او سیاست ترمنځ د متقابل تعامل یو روښانه مثال هم وړاندې کوي. د روسیې فدراسیون دا اقدام، چې د څو کلونو غیر رسمي تعامل او سیاسي ارزونو پایله وه، چې د اسلامي امارت د نړیوالو اړیکو د پراختیا لپاره یو نوی څپرکی پرانیزي او د نورو دولتونو لپاره د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې زمینه برابروي (Smagin, 2025).

## ۲,۱. د مشروعیت سیاست: د روسیې لهخوا د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه

په ۲۰۲۵ کال کې د روسیې فدراسیون لهخوا د افغانستان اسلامي امارت رسمیت پېژندنه، د نړیوالو اړیکو په ډگر کې یو ستر تحول گڼل کېږي. دا رسمیت پېژندنه، چې د اسلامي امارت له بیا واک ته رسېدو څلور کاله وروسته اعلان شوه، نه یوازې د مسکو د سیمهییزو ستراتیژیو د بدلون نښه ده؛ بلکې د نړیوالو حقوقو، مشروعیت او سیاست ترمنځ د متقابل تعامل یوه ژوره بیلگه هم وړاندې کوي.

د نړیوالې حقوقي زاویې له مخې د دولت رسمیت پېژندنه د مونټېویډیو کنوانسیون له معیارونو سره تړاو لري: دایمي نفوس، تعریف شوی قلمرو، حکومت او د بهرنیو اړیکو وړتیا د یو دولت د رسمیت پېژندنې لپاره اساسي عناصر گڼل کېږي (Montevideo, 1933). که څه هم افغانستان له دغو معیارونو سره مطابقت لري؛ خو د افغانستان اسلامي امارت د حکومت په حیث رسمیت پېژندنه لا هم سیاسي، ارزښتي او حقوقي بحثونه را پاروي. د روسیې لخوا د رسمیت پېژندنې اقدام دا بحثونه لا روښانه کوي چې رسمیت پېژندنه یوازې حقوقي نه؛ بلکې سیاسي وسیله هم ده چې د دولتونو لهخوا د خپلو ستراتیژیکو گټو لپاره کارول کېږي. د روسیې لپاره د افغانستان اسلامي امارت رسمیت پېژندنه څو مهمې موخې لري:

### ۱,۲,۱.سیمهییز نفوذ پراخول

افغانستان د منځنۍ آسیا، سوېلي آسیا او چین د نښلون مهمه جغرافیوي نقطه ده چې له کبله یې تل ستراتیژیک اهمیت لرلی دی. د دغه موقعیت له مخې افغانستان د سوداگرۍ، ټرانزیټ او امنیتي تعاملاتو لپاره یو مهم دهلیز گڼل کېږي. په اوسنیو شرایطو کې له اسلامي امارت سره د سیمهییزو هېوادونو رسمي اړیکې نه یوازې د سیمې پر سیاسي او اقتصادي فضا اغېز لري؛ بلکې روسیې ته هم دا فرصت برابروي چې د خپلو امنیتي او جیوپولیټیکي موخو د تعقیب لپاره په افغانستان کې د نفوذ ساحه نوره هم پراخه کړي (Azami, 2024).

### ۱,۲,۲.د لوېدیځو ارزښتونو پر وړاندې دریځ

روسیه، چې له لوېدیځو هېوادونو سره د ارزښتي او سیاسي اختلافونو اوږده تجربه لري، په وروستیو کلونو کې هڅه کړې چې د نړیوالو ارزښتونو پر وړاندې یو بدیل دریځ رامنځته کړي. دا دریځ د لوېدیځو لیبرال اصولو—لکه د بشري حقونو نړیوال معیارونه، د حکومتونو د مشروعیت ارزونه، او د نړیوال نظم د تنظیم میکانیزمونه—پر وړاندې انتقادي او سیاسي غبرگون گڼل کېږي. د افغانستان د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په قضیه کې روسیې نه یوازې له لوېدیځو هېوادونو سره د تعامل له دودیزې تگلارې سرغړونه وکړه؛ بلکې د مشروعیت د تعریف په برخه کې یې خپل مستقل معیارونه وکارول. دا اقدام د مسکو د هغه ستراتیژیک سیاست برخه ده چې غواړي د نړیوالو ارزښتونو پر وړاندې یو څو قطبي نظم ته وده ورکړي او د لوېدیځو ارزښتونو پر ځای د سیمهییزو او فرهنگي ځانگړتیاوو پر بنسټ د تعامل نوی چوکاټ معرفي کړي (Hussain, 2025).

### ۱,۲,۳.اقتصادي او امنیتي همکاریو ته لاره هوارول

د روسیې لهخوا د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه نه یوازې سیاسي معنا لري؛ بلکې د اقتصادي او امنیتي همکاریو لپاره هم نوې دروازې پرانیزي. روسیه هڅه کوي چې له اسلامي امارت سره د ترهگرۍ ضد مبارزې په برخه کې همغږي رامنځته کړي، په ځانگړي ډول د داعش خراسان څانگې پر ضد، چې د دواړو هېوادونو لپاره گډ تهدید بلل کېږي. همدارنگه، د مخدره موادو د تولید او قاچاق د کنټرول په برخه کې هم روسیه د همکارۍ علاقه لري؛ ځکه چې دا موضوع د منځنۍ آسیا له لارې روسیې ته د ناامنۍ او عامه روغتیا خطرونه پېښوي. له بلې خوا، د سوداگرۍ پراختیا، د ترانزیت لارو فعالول او د انرژۍ او کانونو په سکتورونو کې پانگونه هغه اقتصادي فرصتونه دي چې روسیه یې له اسلامي امارت سره د همکارۍ لپاره مهم گڼي او غواړي د افغانستان له جغرافیایي موقعیت څخه د ستراتیژیکو گټو لپاره استفاده ترې وکړي (SpecialEurasia, 2025).

د روسيې له‌خوا د افغانستان اسلامي امارت رسميت پېژندنه د دې لامل ګرځي چې نور دولتونه خپلې تګلارې، ستراتېژيکې محاسبې او د سيمې د بدلونونو په اړه عمومي ليدلورى له سره وارزوي. چين، ايران، هند، پاکستان او د منځنۍ آسيا هغه هېوادونه چې له اسلامي امارت سره يې د اړتيا او جيوپوليټيکي واقعيتونو له مخې نسبي عملي اړيکې ساتلې، کېدى شي د نويو تحولاتو په رڼا کې خپلې پخوانۍ تګلارې نورې هم ژورې، مشخصې او همغږې کړي (Wani & Parnerkar, 2024) (Singh, 2025). دا دولتونه ممکن د اقتصادي ګټو، امنيتي اړتياوو، د سوداګريزو دهليزونو پرانيستې او د سيمې د ثبات په اړه د خپلو اوږدمهالو پلانونو د خونديتوب لپاره له نوي وضعيت څخه په هدفمند ډول استفاده وکړي او تعاملات له تخنيکي کچې پورته د سياسي اعتبار تر بحثه ورسوي.

په مقابل کې، لوېديځ هېوادونه چې تر دې مهاله يې د انزوا، فشار او شرطيت پر بنسټ سياستونه تجربه کړي، اوس د يوې جدي ستراتېژيکې پوښتنې مخې ته ولاړ دي: آيا دغو تګلارو يې رښتيا هم مطلوبې پايلې لرلې او که نه د وضعيت د لا پېچلتيا او د خپل نفوذ د کمېدو لامل شوې؟ ځينې لوېديځ تحليلګر به ممکن دې پايلې ته ورسېږي چې د اوږدمهاله انزوا سياست نه يوازې د بدلون د رامنځته کولو توان نه درلود؛ بلکې د نفوذ يو لوى ميدان يې هغو سيالانو ته پرېښى چې په سيمه کې رغنده ډيپلوماسۍ، اقتصادي ابتکاراتو او امنيتي همکاريو ته لومړيتوب ورکوي (Knipp, 2025). له همدې امله، لوېديځ سياستوال ښايي اوس له دې بحث سره مخ شي چې د تعامل له نويو ميکانيزمونو، مشروطې ډيپلوماسۍ او د سيمه‌يزو اړتياوو له درک پرته د پخوانيو سياستونو دوام څومره عملي او ګټور تمامېږي.

سربېره پردې، د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې هم د اسلامي امارت رسميت پېژندنه ځانګړې اهميت لري. که څه هم تر اوسه د افغانستان اسلامي امارت د ملګرو ملتونو سازمان کې د رسمي استازيتوب حق نه دى ترلاسه کړى او د پخواني رژيم استازى لا

هم د افغانستان په نوم په غونډو کې برخه اخلي. د روسيې اقدام، که څه هم یو اړخیز دی، بیا هم د ملګرو ملتونو د غړو دولتونو ترمنځ د بحث او مذاکرې نوې دروازې پرانیزي. دغه ګام ښايي د اسلامي امارت د نړیوال مشروعیت په برخه کې فشارونه زیات کړي او د نورو دولتونو لپاره د موقف نیونې او د سیاست د بیا ارزونې فرصتونه برابر کړي (Knipp, 2025). له بلې خوا، دا پېښه د نړیوالې ډیپلوماسۍ د تعاملاتو په چوکاټ کې یو نوی تحرک رامنځته کوي؛ څکه دولتونه باید د افغانستان د راتلونکو سیاستونو، امنیتي مسائلو او سیمه‌ییزو اړیکو په اړه خپلې ستراتېژۍ له سره وځېړي. په همدې توګه، د روسيې له‌خوا رسمیت پېژندنه نه یوازې سیمه‌ییزو قدرتونو ته د اغېزو په اړه یو سیګنال دی؛ بلکې د نړیوالو سازمانونو په کچه د مشروعیت، تعامل او فشار د میکانیزمونو په اړه هم نوي بحثونه رامنځته کوي.

لنډه دا چې د روسيې له‌خوا د رسمیت پېژندنه یوازې یو دوه اړخیز اقدام نه دی؛ بلکې یو ژور جیوپولیټیک پیغام هم دی چې د مشروعیت، حقوقو او سیاست ترمنځ اړیکې بیا تعریفوي. دا پېښه څرګندوي چې نړیوال سیاست یوازې د اصولو او ارزښتونو پر بنسټ نه؛ بلکې د قدرت، ستراتیژیکو ګټو، اقتصادي منافعو او سیمه‌ییزو سیاستونو پر اساس هم حرکت کوي. د رسمیت پېژندنې دا اقدام ښيي چې د نړیوالې اجماع او نړیوال قانون پر وړاندې هم د دولتونو ستراتیژیکه محاسبه اغېزناکه ده او کولی شي د خپلو اوږدمهالو موخو لپاره د نړیوالو تعاملاتو په چوکاټ کې نوي دریځونه غوره کړي. په دې توګه، د روسيې اقدام یوازې د یو ځانګړي دولت د ګټو څرګندونه نه ده؛ بلکې د نړیوال سیاست د پېچلتیا او د مختلفو لوبغاړو د رول د پراخې اغېزې څرګنده بېلګه ده، چې د مشروعیت، امنیت، اقتصادي او سیاسي متقابل تړاوونه په یو واحد نړیوال چوکاټ کې ننداره ته وړاندې کوي.

### ۳,۱. د مشروعیت، حاکمیت او نړیوالو تعاملاتو حقوقي بحثونه

د مشروعیت، حاکمیت او نړیوالو اړیکو مفاهیم د معاصر نړیوال قانون او سیاسي نظریو هغه بنسټیزې ستنې دي چې د دولتونو حقوقي او سیاسي دریځونه پرې ولاړ دي. که څه هم هر یو مفهوم ځانګړی تعریف لري؛ خو په عملي ډګر کې یو له بل سره ژوره اړیکه لري او د نړیوال سیاست د جهت ټاکنې، د دولتونو د ثبات او د نړیوالو بنسټونو د تکامل لپاره مهم بنسټونه جوړوي. وروستیو علمي څېړنو څرګنده کړې چې دا بحثونه یوازې نظري نه دي؛ بلکې د معاصر نړیوال سیاست پر واقعي سلوک، د حکومتونو پر چلن او د نړیوال نظم پر بدلون پراخ اغېز لري (Mitra, 2024).

مشروعیت په کورنۍ او بهرنۍ کچه د یو حکومت د منل کېدو مفهوم دی. په کور دننه، مشروعیت د خلکو له باور، د اساسي قانون یا قانوني چوکاټونو له رعایت او د دولت له وړتیا څخه سرچینه اخلي چې څرنګه نظم ساتي او عامه خدمتونه وړاندې کوي. په نړیواله کچه، مشروعیت د دولتونو له رسمیت پېژندنې او تعامل څخه رامنځته کېږي، چې د یوې ادارې نړیوال حیثیت او د نړیوالو بنسټونو د کارونې حق تضمینوي. مشروعیت په نړیوال سیاست کې یو "رابطوي" مفهوم دی؛ یعنې د نورو دولتونو او نړیوالو لوبغاړو د تعامل، ارزونې او پېژندنې له لارې جوړېږي. له همدې امله، مشروعیت جامد نه دی؛ بلکې د سیاسي او حقوقي تحولاتو په بدلېدو سره تغیر مومي (Minatti, 2024).

حاکمیت بیا د دولت خپلواکي او پر خپلې خاورې د بشپړ واک درلودنې ته ویل کېږي. که څه هم په کلاسیکو نظریو کې حاکمیت مطلق واک ګڼل کېده؛ خو معاصرې څېړنې څرګندوي چې حاکمیت د نړیوالو قانوني مکلفیتونو په ځانګړي ډول د بشري حقونو او بشرپال قانون له مخې محدود شوی دی. د حاکمیت دا بدلون هغه اصلي کړکېچ څرګندوي چې د ویستفالیا د مطلق خپلواک دولت مفهوم او د معاصرو نړیوالو اصولو ترمنځ موجود دی. ننني نړۍ کې دولتونه اړ دي چې د خپلواکۍ او

نړیوالو ژمنو ترمنځ توازن وساتي؛ ځکه چې د نړیوال قانون رعایت د نړیوالو اړیکو مشروعیت او اعتبار تضمینوي (Bartelson, 2016).

نړیوال تعاملات هغه ساحه ده چې مشروعیت او حاکمیت په کې یو له بل سره ښکېل کېږي. دا تعاملات د دولتونو ترمنځ اړیکې، هوکړې، سیاسي مذاکرات او د نړیوالو قوانینو مراعاتول رانغاړي. د معاصرې څېړنې له مخې، دولتونه خپلې تګلارې یوازې پر اصولو نه؛ بلکې پر قدرت، ستراتیژیکو ګټو او نړیوالو ژمنو هم عیاروي. همدا نړیوال تعاملات دي چې حاکمیت عملي کوي، مشروعیت ارزوي او دولتونه د نړیوالو اصولو په یو ګډ نظام کې رانغاړي. د سولې، امنیت، اقتصادي پرمختګ او بشري حقونو د خوندیتوب لپاره د نړیوالو اړیکو چوکاټ بنسټیز رول لري. دا تعاملات په ښکاره ډول څرګندوي چې هېڅ دولت په بشپړه توګه په منزویتوب کې پرمختګ نه‌شي کولی؛ بلکې د مشروعیت او حاکمیت هره دعوه یې د نړیوال سیاست په ډګر کې په دوامداره توګه ازمویل کېږي (Keohane, 2005).

په لنډیز سره ویلی شو چې د مشروعیت، حاکمیت او نړیوالو اړیکو حقوقي بحثونه د دولتونو د چلن د ارزونې، د نړیوال نظم د ثبات او د نړیوالو اصولو د اعتبار لپاره حیاتي دي. دغه بحثونه دا هم څرګندوي چې دولتونه تل د کورني واک او نړیوالو ژمنو ترمنځ په پیچلي غوراوي کې ښکېل وي. همدارنګه، د رسمیت پېژندنې، حساب ورکونې او نړیوالې همکارۍ اهمیت روښانه کوي، چې د معاصر نړیوال سیاست اصلي محور جوړوي. د همدې درېیو مفاهیمو په ګډه تحلیل سره، څېړونکي او پالیسي جوړونکي کولی شي د نړیوال سیاست پر بدلېدونکي ماهیت او د هغه حقوقي بنسټونو باندې ژوره پوهه ترلاسه کړي چې د نړیوال نظم د دوام تکیه پرې کېږي.

**۲ .اسلامي امارت او د قدرتونو ترمنځ توازن ساتنه**

د ۲۰۲۱ کال اګست راهیسې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ سره سم د سیمې

جیوپولیټیکي چاپېریال په بنسټیزه بڼه بدل شوی او د مرکزي او سوېلي آسیا هېوادونه یې اړ کړي چې خپلې ستراتیژیکې محاسبې او امنیتي دریځونه له سره تنظیم کړي. د واک د دې بدلون پرځای چې مشخص ائتلافونه رامنځته کړي، بالعکس یې د سیالۍ او احتیاط حالت رامنځته کړ چې یو شمېر دولتونه له کابل سره تعامل کوي؛ خو له بشپړ سیاسي ملاتړ او رسمیت پېژندنې څخه ډډه کوي. دا بدلېدونکی وضعیت په نړیوال سیاست کې د دولتونو د اصولي دریځونو، امنیتي اړتیاوو او ستراتیژیکو ګټو ترمنځ ټکرونه او متقابل اغېزونه څرګندوي (Borangaziyev, 2025).

په نړیواله کچه د افغانستان په تړاو د لویو قدرتونو دریځ هم پیچلی او څو اړخیز دی. د افغانستان د بهرني سیاست تر ټولو ستره ننګونه د نړیوالو قدرتونو لکه امریکا، روسیې او چین سره د متوازن تعامل ساتل دي. هر یو له دغو قدرتونو ځانګړي ستراتیژیک اهداف لري چې د کابل پر بهرني چاپېریال مستقیم اغېز کوي. د واشنګټن د نه‌رسمیت پېژندنې سیاست تر ډېره یو اړخیز ماهیت لري، چې اساسي موخه یې د افغانستان اسلامي امارت منزوي کول دي؛ خو په ظاهري توګه د بشري حقونو، په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو مسئله د سیاسي فشار د وسیلې په توګه کارول کېږي (Thomas, 2025). له بلې خوا، د امریکا د دریځ په رڼا کې څرګندېږي چې افغانستان لا هم د نړیوال امنیت په معادلو او ستراتېژیکو محاسباتو کې مهم او اغېزناک ځای لري.

روسیه له افغانستان څخه د لوېدیځ له وتلو وروسته د رامنځته شوې خلا د ډکولو هڅه کوي او له اسلامي امارت سره د نشه‌یي توکو د مخنیوي، امنیتي همکارۍ او سیمه‌ییز ثبات د ساتنې پر موضوعاتو تمرکز لري، چې د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه یې څرګنده بېلګه ده. بلخوا، چین د افغانستان موضوع د خپلو اقتصادي دهلیزونو، د کمربند او لارې نوښت او د امنیتي اندېښنو د حضور د مخنیوي په چوکاټ کې ارزوي. له همدې امله، د چین تعامل ډېر محتاط، انتخابي او د اقتصادي فرصتونو

او امنیتي ډاډګیرۍ پر محور ولاړ دی. چین، افغانستان د اقتصادي نښلون او د امنیتي اندېښنو له نظره ارزوي؛ ځکه چین د احتیاط پر بنسټ پانګونې ستراتیژي د فرصتونو او ګواښونو دواړه اړخونه لري (Fedayee, 2025).

په سیمه‌ییزه کچه، د هند، پاکستان، ایران او سعودي عربستان ترمنځ د توازن ساتل هم حیاتي ارزښت لري. په همدې اساس، هر دولت د خپلې ځانګړې محاسبې له مخې له اسلامي امارت سره تعامل ټاکلی دی. پاکستان له یوې خوا د خپلې خاورې د امنیت ساتنې او د تحریک طالبان پاکستان د فعالیتونو د کنټرول هڅه کوي. له بلې خوا د افغان سیاست په دننه کې د خپل نفوذ د ساتنې لپاره هڅې جاري ساتي. تحریک طالبان د پاکستان لپاره لوی سرخوږی ګڼل کېږي چې د امنیتي همکارۍ پر اړیکو اغېز کوي (Asma, Akhtar, & Barkatullah, 2024).

هند که څه هم له افغانستان سره مستقیمه جغرافیایي پوله نه لري؛ خو بیا هم دغه هېواد تل هڅه کړې چې د زده‌کړې، زیربناوو، روغتیا او بشري مرستو له لارې په افغانستان کې خپل نفوذ وساتي. د هند پانګونې تر ډېره د بندونو، سړکونو، روزنیزو بنسټونو او روغتیایي پروژو په برخه کې متمرکزې دي، چې له یوې خوا د افغانستان د ټولنیز او اقتصادي ثبات ملاتړ کوي او له بلې خوا د سیمې په کچه د هند ستراتېژیک حضور پیاوړی کوي. هند ځان د پاکستان د نفوذ پر وړاندې د یو متوازن ځواک په توګه مطرح کوي او هڅه کوي له نرم قدرت، اقتصادي همکاریو او ډیپلوماټیکو اړیکو څخه د خپلې سیمه‌ییزې تګلارې د پیاوړتیا لپاره استفاده وکړي (Mangu, 2024).

ایران د افغانستان له قضیې سره د مذهبي اړیکو، د سرحدي اوبو د شخړو مدیریت، کډوالۍ او د شیعه لږکیو د ساتنې له امله ژورې او پېچلې اړیکې لري، چې همکاري او رقابت دواړه جریان لري. تهران له یوې خوا هڅه کوي د اقتصادي راکړې ورکړې، د سون توکو صادرات او امنیتي همکاریو له لارې خپل نفوذ وساتي او له بلې خوا د هلمند د اوبو

مسئله وخت ناوخته د تاوتریخوالي لامل ګرځي (Dagres, 2023). سعودي عربستان بیا په تاریخي توګه د مذهبي نفوذ، مالي مرستو او دیني بنسټونو د ملاتړ له لارې په افغانستان کې اغېزمن پاتې شوی او هڅه کوي د خپل نفوذ د پیاوړتیا ترڅنګ د ایران د پراخېدونکي نفوذ پر وړاندې خپل رول متوازن وساتي. ریاض د سیاسي تعامل، اقتصادي نفوذ او سیمه‌ییزو ائتلافونو له لارې هڅه کوي چې په افغانستان کې خپل ستراتېژیک حضور خوندي کړي او د تهران پر وړاندې د قدرت توازن وساتي (Mazzucco & Alexander, 2023).

لنډه دا چې اسلامي امارت د قدرت د توازن اصل درک کړی او هڅه کوي له هېڅ یو نړیوال یا سیمه‌ییز ځواک سره په بشپړه توګه ځان و نه تړي؛ بلکې له سیالیزو اړیکو څخه د خپلې سیاسي خپلواکۍ د پیاوړتیا، د اقتصادي فرصتونو د پراختیا او د نړیوالو سوداګریزو او ترانزیتي دهلیزونو د فعالیت لپاره استفاده وکړي. اسلامي امارت په اوسني نړیوال نظام کې هغه مهمه بېلګه ګرځي چې ښيي یو سیاسي جوړښت څرنګه کولی شي د څو قطبي نړۍ په توازن کې خپل ځای پیداکړي او د امنیت، اقتصاد او مشروعیت پر محورونو د قدرت نوې نقشه ترسیم کړي. د کابل لپاره له دغو قدرتونو سره متوازن تعامل هغه مهال شونی دی چې له ځانګړو تړونونو او انحصاري اتحادونو څخه ځان وساتي، ډیپلوماتیک انعطاف ژوندی وساتي او د خپل جغرافیایي موقعیت ستراتېژیکه شتمني په محاسبه شوې بڼه وکاروي. همدارنګه، د لویو قدرتونو او سیمه‌ییزو لوبغاړو ترمنځ د توازن ساتل د عملي ډیپلوماسۍ، د ګډو ګټو د دقیقې پېژندنې او له سیالیو څخه د ځان ساتنې له لارې ممکن دی. دا ډول توازن نه یوازې د افغانستان اسلامي امارت د ملي حاکمیت، سیاسي ثبات او اقتصادي ودې لپاره بنسټیز ارزښت لري؛ بلکې د سیمې له راتلونکو همکاریو سره د یوځای کېدو لپاره هم یوه اړینه اړتیا بلل کېږي.

### ۱,۲. د ملي ګټو پر بنسټ د بهرني سیاست اصول

بهرنۍ تګلاره تل د ملي ګټو پر اصل ولاړه وي، چې د نړیوالو اړیکو په نظریاتي

او عملي بحثونو کې یو له تلپاتې او اهمیت لرونکو مفاهیمو څخه ګڼل کیږي. دا مفهوم، په ځانګړي ډول له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د دولتونو هغه اساسي اهداف تعریفوي چې د خپل پایښت، امنیت، قدرت او اقتصادي هوساینې د خوندیتوب لپاره یې تعقیبوي. که څه هم ملي ګټه کله د علمي تحلیل وسیله او کله د سیاسي دریځ د توجیه لپاره یوه خطابي وسیله ګرځول کیږي؛ خو بیا هم د دولتونو د بهرنۍ تګلارې د تشخیص لپاره نه بدلېدونکې تکیه ګڼل کیږي (Bala, 2025). په دې اړه پوهه لرل د دې سبب کیږي چې د دولتونو د تصمیم‌نیونې منطق، د هغوی د تګلارې لومړیتوبونه او د نړیوال سیستم په چوکاټ کې د هغوی ستراتیژیک چلن ښه درک کړو.

د بقا یا پایښت اصل د هر دولت د تګلارې تر ټولو لومړنۍ او بنسټیزه تګلاره جوړوي. د دولت شتون، د هغه د خاورې بشپړتیا، سیاسي خپلواکي او د بهرنیو ګواښونو پر وړاندې د خوندیتوب اړتیا هغه محور دی چې نورې پرېکړې پرې ولاړې دي. دغه اصل د نړیوال سیستم د فشارونو او فرصتونو په چوکاټ کې تطبیقیږي؛ خو د هر دولت داخلي جوړښتونه، اداري وړتیاوې، د مشرانو درک او د بیروکراټیکو ادارو سیالۍ د دغو اهدافو د تعریف او پلیتوب لپاره منځګړیتوب کوي (Fedayee, 2025). په دې توګه، دولتونه یوازې د مادي ګټو د محاسبې پر بنسټ عمل نه کوي؛ بلکې د سیاسي، ټولنیزو، اداري او ارزښتي عواملو په ګډ اثر خپله تګلاره جوړوي. عقلاني ارزونه د تصمیم‌نیونې یوه مهمه برخه ده؛ خو د پرېکړې اصلي جریان د داخلي سیاسي تعاملونو، ادارو او رهبرۍ د دریځونو تر اغېز لاندې پاتې کیږي. سربېره پردې، هویت او ارزښتونه د ملي ګټو په تعریف کې مهم رول لوبوي چې ډېرې وختونه مادي محاسبات د اصولو او ارزښتونو له مخې بدلیږي.

که څه هم د ریالیستي مکتبونو ترمنځ توپیرونه موجود دي؛ خو ریالیستي نظریه د ملي ګټو د تشریح لپاره بنسټیز چوکاټ وړاندې کوي. کلاسیک ریالېزم د قدرت د

لاسته راوړنې، د احتیاط او بقا د اصولو پر اساس د دولتونو چلن تشریح کوي او باور لري چې دولتونه باید د اخلاقو پرځای د ګټو پر منطق تمرکز وکړي. جوړښتي ریالیزم ملي ګټه د دولت د بقا، اړتیا او د نړیوال نظام د ځواک د ویش پر بنسټ تشریح کوي. نیوکلاسیک ریالیزم د نړیوال سیاست یو ژور او څو اړخیز تحلیل وړاندې کوي او استدلال کوي چې نړیوال فشارونه د کورنیو فکتورونو لکه اداري وړتیا، سیاسي ظرفیت، د رهبرۍ دریځ او د ګوندونو د جوړښت له لوري فلټر کېږي. همدا نظریاتي چوکاټ روښانه کوي چې ولې هغه دولتونه چې په ظاهره په ورته نړیوالو شرایطو کې قرار لري، بیا هم متفاوتې او بېلابېلې تګلارې غوره کوي (Morgenthau, 1978).

دولتونه خپلې ملي ګټې د ګواښونو د ارزونې، کورنیو محدودیتونو او ستراتیژیکو بدیلونو په رڼا کې طبقه‌بندي کوي. هغه مسائل چې د دولت تر بقا پورې تړلي ګڼل کېږي، د لومړیتوب لوړ مقام ترلاسه کوي او منابع ورته ځانګړې کېږي. کورني عوامل، اداري، ګوندونه او سیاسي رهبري د دې وړتیا لري چې د ملي ګټو د تعقیب په بهیر کې محدودیتونه او امکانات برابر کړي او ځینې وختونه پایلې د نړیوالو جوړښتونو له وړاندوینو سره مطابقت نه لري. کوچني یا له اقتصادي لحاظه متکي دولتونه ممکن د اقتصادي ثبات او سوداګریزو اړیکو ساتنې ته لومړیتوب ورکړي، په‌داسې حال کې چې لوی قدرتونه پراخ جیوپولیتیکي او امنیتي اهداف تعقیبوي (Marston, 2024).

قدرت، امنیت او اقتصادي ګټې د ملي ګټو درې اصلي محورونه جوړوي چې یو بل ته متقابل ملاتړ ورکوي. ریالیستي تحلیلونه په ځانګړي ډول امنیت او نسبي قدرت ته لومړیتوب ورکوي. اقتصادي ګټې هم د موخو په توګه او هم د وسیلو په توګه د ستراتیژیکو پرېکړو په جوړونه کې مهم رول لري؛ د سوداګرۍ تړونونه، سیمه‌ییزې همکارۍ او اقتصادي تړونونه د دولتونو د تګلارې انتخابونه محدودوي او اغېزمنوي. اقتصادي ځواک د دې وړتیا لري چې سیاسي او جیوپولیتیکي اغېزې زیاتې کړي؛ خو

دا ځواک د ادارې د کيفيت، د رهبرۍ د دريځ او د سياسي پرېکړو د پليتوب پر بنسټ ولاړ دی. بلخوا، اقتصادي تړلتياوې کوچني دولتونه په سياسي او اقتصادي لحاظ محدودوي او د سترو قدرتونو د نفوذ ساحه نوره هم پراخوي (Baldwin, 2016).

په پايله کې ويلی شو چې ملي گټه د بهرنۍ تگلارې هغه اصل دی چې د نړيوال سيستم فشارونه، کورني شرايط او ستراتيژيکه محاسبه په گډه تنظيموي. د دې اصل د پوهاوي له لارې موږ کولی شو درک کړو چې دولتونه څرنگه خپلې گټې تعريفوي، طبقه‌بندي کوي او د نړيوال چاپېريال او کورنيو محدوديتونو په چوکاټ کې يې تعقيبوي. دغه تحليل د نړيوال سياست د پېچلتيا، د دولتونو د ستراتيژيکو موخو او د کورني او نړيوال جوړښت ترمنځ د متقابلو اړيکو روښانه انځور وړاندې کوي.

## ۲،۲. افغانستان او د جيوپوليټيکي سياليو څخه د خونديتوب ستراتيژي

د افغانستان د جيوپوليټيکي سياليو د مخنيوي لپاره يوه هر اړخيزه او څو بعدي تگلاره اړينه ده، داسې تگلاره چې په يو وخت کې هم د کورنيو چارو درک او تنظيم ته پاملرنه وکړي او هم د بهرنيو اغېزو د متوازن مديريت وړتيا ولري. د افغانستان جيوپوليټيکي وضعيت له تاريخي پلوه خورا پېچلی پاتې شوی؛ ځکه دا هېواد د لويو جگړو، د سيمه‌ييزو قدرتونو د سياليو او د نړيوالو لوبغاړو د متضادو گټو له امله تل د تضادونو په مرکز بدل شوی دی. د سويلي آسيا، مرکزي آسيا او منځني ختيځ په څلورلارې کې د افغانستان موقعيت هغه ځانگړنه ده چې دا هېواد يې د نړيوالو قدرتونو او سيمه‌ييزو لوبغاړو د سياليو لپاره حياتي گرځولی دی (Chaghaty & Bagramwal, 2025). همدغه موقعيت افغانستان ته ستراتېژيک ارزښت ورکړی؛ خو دا ارزښت ډېر ځله د سولې او ثبات پرځای د جگړې، بې‌ثباتۍ او سياليو لامل شوی دی. نن همدغه واقعيت د افغانستان د بهرني سياست بنسټيزې ننگونې تعريفوي او د هېواد سياسي، امنيتي او اقتصادي تعاملات تر ژور اغېز لاندې راولي. له همدې امله، د ثبات لپاره اغېزمنې

ستراتېژۍ باید پر ډیپلوماټیک تعامل، اقتصادي نښلون او سیمه‌ییزو همکاریو ولاړې وي؛ خو ورسره باید هغه ژورې تاریخي عقدې، بې‌باوري او رقابتونه هم په واقعبینانه توګه په پام کې ونیول شي چې د پرمختګ پر وړاندې جدي خنډونه جوړوي.

د افغانستان د ثبات پر وړاندې یو له تر ټولو دوامدارو او پېچلو خنډونو څخه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ډیورنډ فرضي کرښې شخړه ده. دا اختلاف چې ریښې یې د استعماري دورې تر سیاسي پرېکړو پورې رسېږي، لا هم نه دی حل شوی او په دوامدار ډول د دواړو هېوادونو ترمنځ تاوتریخوالی زېږوي. د اسلامي امارت له واک ته رسېدو سره سم د فرضي کرښې په اوږدو کې وسله‌والې نښتې زیاتې شوې دي، چې دا موضوع د دغه اختلاف د بې‌ثباته کوونکي پوتانسیال روښانه څرګندونه کوي. د دې شخړې نه حل کېدل یوازې پر دوه‌اړخیزو اړیکو منفي اغېزې نه لري؛ بلکې د پراخو سیمه‌ییزو همکاریو بهیر هم ټکنی کوي او د دواړو ګاونډیو ګډې ګټې ګواښي (Rahimov, 2023).

له بلې خوا، د افغانستان جیوپولیټیکي موقعیت دا هېواد د امریکا، روسیې او چین ترمنځ د ستراتېژیک رقابت په یو مهم ډګر بدل کړی دی. هر یو له دغو قدرتونو خپل ځانګړي اهداف تعقیبوي، چې امریکا تر ډېره امنیتي محاسبات او د سیمې د ځواک توازن ته پام لري. روسیه هڅه کوي خپل نفوذ بیا ورغوي او د منځنۍ آسیا د امنیتي کمربند ساتنه وکړي. چین بیا افغانستان د اقتصادي نښلون، انرژۍ او د «یو کمربند، یوه لار» نوښت له زاویې ګوري. همدا متضاد اهداف افغانستان د نړیوال سیاست په کچه په یو سیالي او لانجمن میدان بدلوي (Yawar, 2024).

ډیپلوماټیکې او اقتصادي حل‌لارې کولی شي د دغو سیالیو د کمښت لپاره بنسټیز رول ولوبوي. د دوه اړخیزو خبرو اترو ترویج، د باور جوړونې میکانېزمونه او د نړیوالو حقوقي چوکاټونو کارول کولی شي د ډیورنډ فرضي کرښې په څېر زاړه او حساس اختلافات د حل پر لورې ور نژدې کړي. که څه هم دغه ډول لارې چارې له سیاسي

مخالفتونو، قومي حساسيتونو او تاريخي عقدو سره مخ دي؛ خو د تاوتريخوالي د کمښت او د وسله‌والې شخړې د مخنيوي لپاره بنسټيز اهميت لري. د دې ترڅنګ، اقتصادي نښلون هم د پام وړ فرصت برابروي چې د چين د «يو کمربند، يوه لار» نوښت، د منځنۍ او سويلي آسيا د انرژۍ پروژې او د سوداګرۍ او ترانزېټ سيمه‌ييز دهليزونه کولی شي د ګاونډيو هېوادونو ترمنځ اقتصادي همکارۍ پياوړې کړي او د ګډو ګټو له لارې سياسي تاوتريخوالی را کم کړي. له سيمه‌ييزو اقتصادي نوښتنو سره د افغانستان نږدې کېدل نه يوازې د سولې لپاره عملي انګېزې زياتوي؛ بلکې د هېواد د پراختيا، کارموندنې او اقتصادي ودې بنسټونه هم پياوړي کوي (Fedayee, 2025).

د سترو قدرتونو رول د افغانستان د راتلونکې په ټاکنه کې ځانګړې اهميت لري. د هغوی ښکېلتيا کولی شي سيالۍ لا پسې توندې کړي او يا هم سولې او همکارۍ ته لاره هواره کړي. له يوې خوا، د امريکا، روسيې او چين ترمنځ ستراتېژيک رقابت د افغانستان د ثبات پر لوري روان بهير نور هم پېچلی کوي؛ ځکه هر يو لوبغاړی هڅه کوي خپل جيوپوليټيکي اهداف خوندي کړي. له بلې خوا، همدا قدرتونه دا وړتيا هم لري که د هغوی ګټې له ثبات سره همغږې شي؛ نو سيمه‌ييزه همکاري او اقتصادي نښلون پياوړي کړي (Weinbaum, 2021). د بېلګې په توګه، د ترهګرۍ ضد مبارزه، د زيربناوو په پانګونه، د بشري مرستو همغږي او د کډوالۍ د ستونزو مديريت هغه برخې دي چې په ګډه د افغانستان کورنۍ ستونزې تر يو بريده حل کړي او بهرنی فشار را کم کړي. دا ډول همکارۍ د بې‌باورۍ د کمښت، د سياسي محاسباتو د حل او د متضادو ستراتيژيکو لومړيتوبونو د تنظيم غوښتنه کوي، چې دا پروسه لا هم ستونزمنه او اوږدمهاله ده.

که څه هم ډيپلوماټيک تعامل، اقتصادي نښلون او سيمه‌ييزه همکاري د افغانستان د جيوپوليټيکي سياليو د کمښت لپاره مهمې او عملي لارې بلل کېږي؛ خو تاريخي لانجې، دوامدارې شخړې او د نړيوالو او سيمه‌ييزو قدرتونو متضادې ګټې لا هم د

تلپاتې سولې پر وړاندې جدي خنډونه دي. سربېره پردې، افغانستان او ګاونډیان یې کولی شي د عملي ډيپلوماسۍ، د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا او د رغنده سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې په تدریجي ډول د ثبات او همکارۍ پر لور پرمختګ وکړي.

**۳. د اسلامي امارت د بهرني سیاست تحلیلي ارزونه**

د افغانستان اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره د غیر رسمي تعاملاتو، دوه‌اړخیزو اړیکو او سیمه‌ییزې ډيپلوماسۍ له یو پېچلي تعامل څخه استازیتوب کوي، چې د نړیوالې ټولنې د فشار او د مشروعیت د ترلاسي د هڅو تر اغېز لاندې رامنځته شوې ده. اسلامي امارت په ۲۰۲۱ کال کې واک ته له بیا راستنېدو راهیسې هڅه کړې ده، ترڅو داسې متوازنه بهرنۍ تګلاره جوړه کړي چې له یوې خوا له نړیوالو قدرتونو سره د تعامل زمینه برابره کړي او له بلې خوا د رسمیت د نشتون محدودیتونه مدیریت کړي. دغه تګلارې که څه هم یو شمېر ډيپلوماتیکې برياوې رامنځته کړې دي؛ خو له سیمه‌ییزو لوبغاړو سره د اړیکو د ساتنې په برخه کې لا هم له محدودیتونو سره مخ ده چې د افغانستان نړیوال دریځ ننګوي.

د اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره د چین او مرکزي آسیا هېوادونو پر وړاندې تر ډېره ګټوره تمامه شوې ده. دغه تعاملات تر ډېره عملي بڼه لري او پر اقتصادي همکارۍ او امنیتي اندېښنو متمرکز دي. چین له افغانستان سره خپلې اړیکې ستراتېژیکې ګڼي، د نه‌لاس‌وهنې پر اصل ټینګار کوي او د طبیعي زېرمو په برخه کې پانګونې ته لومړیتوب ورکوي. دغه ډول تعامل د افغانستان د اقتصادي رغونې لپاره خورا ارزښتناک دی؛ ځکه افغانستان تر ډېره پر بهرنیو پانګونو او سوداګریزو فرصتونو متکي دی. د چین محتاط، خو هدفمند حضور د «یو کمربند، یوه لار» د پراخې سیمه‌ییزې ستراتېژۍ برخه ده، چې افغانستان هم د یوه احتمالي ترانزیټي دهلیز په توګه په کې لیدل کېږي، په دې شرط چې د بې‌ثباتۍ د مخنیوي ستراتیژي جدي وګڼل شي (Fazli, Habib, Moaz, & Ayoubi, 2025).

په مرکزي اسیا کې د اسلامي امارت رول تر ډېره د چین او روسیې ترمنځ پر متوازن بنسټ ولاړ دی؛ هغه دوه قدرتونه چې ګټې یې متفاوتې دي؛ خو د افغانستان په ثبات کې شریکې اندېښنې لري. چین د «یو کمربند، یوې لارې» نوښت د سوداګریزو لارو د خوندیتوب او د شینجیانګ سیمې ترڅنګ د افراطیت د مخنیوي لپاره د افغانستان ثبات مهم ګڼي، په داسې حال کې چې روسیه هڅه کوي امنیتي ګواښونه مرکزي اسیا ته تر خپرېدو وړاندې کنټرول کړي. اسلامي امارت له دې وضعیت څخه د یو حایل دولت په توګه ګټه اخلي او له دواړو لوریو سره عملي ډیپلوماتیک تعامل ساتي. اسلامي امارت پر اقتصادي ډیپلوماسۍ، له مرکزي اسیا سره پر سوداګرۍ او د ترانزیټ او رېل پټلۍ د پروژو پر پراختیا تمرکز کړی؛ خو امنیتي ننګونې او جیوپولیټیکي فشارونه لا هم د افغانستان سیمه‌ییز رول له نامعلوم برخلیک سره مخ کوي (Turgunbaeva & Ghiasi, 2025).

په تاریخي توګه د افغانستان او پاکستان اړیکې تل له ترینګلتیاوو ډکې پاتې شوې دي، په ځانګړي ډول د اسلامي امارت له بیا واک ته رسېدو سره سم دغه ترینګلتیا تر وسله‌والو نښتو پورې رسېدلې ده. که څه هم پاکستان د اتیایمو او نویمو لسیزو پر مهال د افغانستان په سیاست کې ښکېل پاتې شوی؛ خو دا مهال د تحریک طالبان پاکستان پیاوړتیا، چې د اسلام‌آباد لپاره یوه جدي امنیتي ننګونه ګرځېدلې، د دواړو هېوادونو اړیکې له نویو او پېچلو شرایطو سره مخ کړې دي (Borangaziyev, 2025). سره له دې، همکاري لا هم شونې ده، په ځانګړي ډول د امنیت او سوداګرۍ په برخو کې دواړه لوري د ګډو ګټو له مخې د تعامل ظرفیت لري؛ خو د سیمې بدلېدونکي شرایط او په ځانګړي ډول د امریکا سیاستونه، ډېر ځله د دواړو ګاونډیانو تعامل له همکارۍ څخه د تقابل پر لور بیایي، چې پایله یې کله ناکله وسله‌والې نښتې وي.

د هند او اسلامي امارت ترمنځ اړیکې هم مخ پر پیاوړتیا روانې دي او اسلامي امارت تر دې مهاله توانېدلی چې د هند او پاکستان ترمنځ یو نسبي توازن وساتي. دا

توازن د دې واقعیت څرګندونه کوي چې اسلامي امارت، د یو خپلواک سیاسي نظام په توګه، د نورو دولتونو په څېر قانوني حق لري چې د خپلو ملي ګټو، اقتصادي اړتیاوو او امنیتي لومړیتوبونو پر بنسټ له ټولو دولتونو سره متقابلې او متوازنې اړیکې وساتي (Sharma, 2025). په همدې چوکاټ کې له هند سره تعامل د سیاسي بدیل، اقتصادي فرصتونو او سیمه‌ییز تنوع په معنا تعبیرېږي، چې د افغانستان د بهرني سیاست د توازني بنې له اساسي ځانګړنو څخه ګڼل کېږي.

د ایران او سعودي عربستان د رقابت په پامنیوي سره اسلامي امارت توانېدلی دی چې د دواړو لوریو ترمنځ متوازن تعامل وساتي. اسلامي امارت د خپلو ملي ګټو په رڼا کې د تهران او ریاض ترمنځ اړیکې مدیریت کوي، ترڅو د سیمه‌ییزو رقابتونو منفي اغېزې د افغانستان پر ثبات او امنیت محدودې وساتي (Alibabalu, 2021). دغه بېلانس د اسلامي امارت د ډیپلوماټیکو مهارتونو ښکارندویي کوي او په پرله‌پسې توګه پرمخ روان دی، چې د هېواد ملي ګټې خوندي کوي، اقتصادي او امنیتي فرصتونه پراخوي او د بهرنیو فشارونو پر وړاندې د انعطاف وړتیا ساتي. د دې ترڅنګ، اسلامي امارت هڅه کوي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د تجارتي، کلتوري او بشري همکارۍ لارې هم فعاله وساتي، ترڅو د اوږدمهاله اعتماد فضا رامنځته کړي. دا ستراتیژیک توازن نه یوازې د افغانستان د کورني ثبات لپاره حیاتي دی؛ بلکې د سیمه‌ییز امنیت او د متقابل اقتصادي پرمختګ لپاره هم مهم رول لوبوي.

له دوه‌اړخیزو اړیکو هاخوا، اسلامي امارت له نړیوالو سازمانونو سره هم غیر رسمي ډیپلوماټیکې اړیکې لري، چې ډیری یې د بشري مرستو او مرستندویه پروګرامونو پر محور څرخي. که څه هم دا اړیکې لنډمهاله اسانتیاوې برابروي؛ خو د نړیوال رسمیت نشتوالی لا هم د افغانستان فعال حضور محدودوي. سره له دې، امارت د متوازنې بهرنۍ تګلارې په چوکاټ کې له ګاونډیانو او سیمه‌ییزو قدرتونو لکه چین، پاکستان، ایران،

مرکزي آسیا هېوادونو، خلیجي هېوادونو، ترکیې، هند او روسیې سره اړیکې ساتلې، چې افغانستان ته د سوداګرۍ، پانګونې او امنیتي همکاریو مهم فرصتونه برابروي (Krishnan, 2025). د بېلګې په توګه، ایران د پولې مدیریت، د سون توکو صادرات او کډوالۍ په برخو کې تعامل لري. همدارنګه، روسیه د ترهګرۍ ضد مبارزې او د نشه‌یي توکو د قاچاق پر ضد د افغانستان ملاتړ کوي. دغه تعاملات ښیي چې اسلامي امارت د افغانستان ستراتېژیک موقعیت په سویلي او مرکزي آسیا او منځني ختیځ کې د سیمه‌ییز اهمیت د ساتنې لپاره ګټور کاروي.

سیاسي شنونکي باور لري چې متوازن بهرنی سیاست کولی شي د اسلامي امارت نړیوال مشروعیت ته وده ورکړي، که افغانستان د خپلو کورنیو تګلارو او د نړیوالو لوبغاړو ترمنځ مؤثر توازن وساتي. په دې صورت کې، نړیوال له افغانستان سره نږدې کېږي او اسلامي امارت کولی شي په نړیوال سیاست کې خپل فعال حضور پیاوړی کړي، چې د اقتصادي پرمختګ او سیمه‌ییز ثبات لپاره عملي فرصتونه برابروي. د اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره د افغانستان د ستراتېژیک جیوپولیټیکي موقعیت له ننګونو سره تړلې ده؛ ځکه چې دا هېواد د لویو قدرتونو د سیالیو په څلورلارې کې پروت دی، چې تاریخي او سیمه‌ییزې ستونزې یې د پرمختګ پر وړاندې خنډونه جوړوي (Borangaziyev, 2025). په دې حال کې، اسلامي امارت هڅه کوي له سیمه‌ییزو قدرتونو سره اړیکې متوازنې وساتي او د نړیوالې انزوا محدودیتونه د خپل اقتصادمحوره سیاست پر مټ مدیریت کړي، ترڅو د امنیت، اقتصادي پرمختګ او ثبات لپاره زمینه برابره کړي.

لنډه دا چې د اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره د غیر رسمي تعاملاتو، دوه‌اړخیزو اړیکو او سیمه‌ییزې ډیپلوماسۍ ترکیب دی. له ګڼو ډیپلوماټیکو لاسته راوړنو سره، د رسمیت نشتون او اقتصادي بندیزونه د افغانستان نړیوال دریځ کمزوری کوي. د

افغانستان راتلونکی په متوازن پیاوړي بهرني سیاست پورې تړلی دی چې امارت څرنګه د پیاوړې حکومتوالۍ، د نړیوالو توقعاتو او سیمه‌ییزې همکارۍ ترمنځ د تعامل بیلانس وساتي، چې په بریالیتوب سره یې افغانستان د انزوا او بې‌ثباتۍ کړۍ ماتوي، چې په پایله کې د ثبات او اقتصادي پرمختګ فرصتونه رامنځته کوي.

**پایله**

په پایله کې ویلی شو چې د افغانستان اسلامي امارت نړیوال رسمیت، په ځانګړي ډول د روسیې له‌خوا د رسمیت پېژندنې اقدام، د هېواد په سیاسي، حقوقي او جیوپولیټیکي وضعیت کې یو مهم بدلون رامنځته کړی دی. که څه هم تر اوسه د نړیوالې ټولنې لخوا کوم اقدام نه دی ترسره شوی؛ خو د روسیې دا ګام ښیي چې د نړیوال سیاست په ډګر کې د عملي ګټو، امنیتي اندېښنو او ستراتیژیکو محاسبو ارزښت تر ډېره د شعارونو پر ځای واقع‌بینانه بڼې ته اوړي. له حقوقي اړخه، اسلامي امارت د دولت جوړونې بنسټیز معیارونه پوره کړي؛ خو د حکومت د رسمیت پېژندنې پروسه لا هم تر ډېره سیاسي بڼه لري او د نړیوالو قدرتونو له متضادو ګټو سره تړلې ده. یو شمېر سیمه‌ییز قدرتونه هڅه کوي افغانستان د یوې سیاسي شخړې پر ځای د یو امنیتي، اقتصادي او ترانزیټي مرکز په توګه ووینې.

له بلې خوا، د اسلامي امارت لپاره دا یو مهم فرصت دی چې د روسیې فدراسیون له رغنده اقدام څخه د یو سیاسي سیګنال په توګه استفاده وکړي او د متوازن بهرني سیاست، اقتصادي همکارۍ او امنیتي همغږۍ له لارې د نورو دولتونو باور هم ترلاسه کړي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د نړیوالو اندېښنو، په ځانګړي ډول له ګاونډیانو سره د امنیت په برخه کې کوټلې ګامونه پورته کړي، ترڅو د رسمیت پېژندنې بهیر لا پراخ شي.

د روسیې فدراسیون له‌خوا د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه نه یوازې د افغانستان لپاره د نړیوال مشروعیت پر لوري یو نوی پړاو بلل کېږي؛ بلکې دا څرګندوي چې اوسنی

نړیوال سیاست د مطلقو اصولو پرځای پر متقابلو ګټو، ځواک، امنیت او سیمه‌ییزو محاسبو ولاړ دی. په همدې چوکاټ کې به د افغانستان د راتلونکي سیاسي ثبات، اقتصادي نښلون او نړیوال تعامل بڼه له واقعیت سره سمه تنظیم شي او د هېواد راتلونکی ثبات به تر ډېره د واقع‌بینانه تعامل، کورني ثبات او متوازن بهرني سیاست پورې تړلی وي.

لنډه دا چې اسلامي امارت د نړیوالې ډیپلوماسۍ په ډګر کې تر ډېره د پام وړ لاسته راوړنې لري او توانېدلی دی چې له ګڼو دولتونو او نړیوالو سازمانونو سره د تعامل لارې پرانیزي. سربېره پردې، د بشپړ نړیوال رسمیت د ترلاسي لاره پاتې ده؛ خو د پرله‌پسې هڅو او متوازن بهرني سیاست له لارې اسلامي امارت هڅه کوي چې د نړیوالې ټولنې باور او رسمیت ترلاسه کړي. دا به نه یوازې د افغانستان د دولت د حقوقي او سیاسي حیثیت د تثبیت لامل شي؛ بلکې د افغانستان د بهرنۍ تګلارې د مشروعیت، د ملي ګټو د خوندیتوب او د سیمه‌ییزو او نړیوالو همکاریو د پراختیا لپاره به نوې لارې چارې پرانیزي. په همدې اساس، د اسلامي امارت د رسمیت مسئله یوازې د یوې حقوقي پدیدې په توګه نه؛ بلکې د افغانستان د راتلونکي سیاسي ثبات او د نړیوالو اړیکو په معادله کې د یو ستراتیژیک تحول په توګه ارزول کېږي.

**سرچینې**


1. Alibabalu, S. S. (2021, October 27). *Afghanistan Brings the Saudi-Iranian Rivalry to a New Level*. Retrieved from Politics Today: https://politicstoday.org/saudi-arabia-iran-rivalry-in-afghanistan/
2. Asma, Akhtar, D. N., & Barkatullah. (2024). Nexus between TTP and Afghan Taliban: Impacts on Pakistan-Afghanistan Relations. *Pakistan Social Sciences Review, 8*(2), 269-278.
3. Azami, D. (2024). China, Russia, and Great Power Politics in Afghanistan and Central Asia. *Caspian Policy Center*. Retrieved from https://www.caspianpolicy.org/research/central-asia/china-russia-and-great-power-politics-in-afghanistan-and-central-asia
4. Aziz, E., & Rashid, J. U. (2025). Opportunities and Challenges for the Recognition of the Islamic Emirate of Afghanistan. *Journal of Arts, Humanities and Social Science, 2*(3), 36-44.

5. Bala, D. (2025). National Interest and Foreign Policy: A Review. *AD Eduxian Journal, 1&2*(3), 144-156.
6. Baldwin, D. A. (2016). *Power and International Relations : A Conceptual Approach.* Princeton University Press.
7. Bartelson, J. (2016). *Sovereignty as Symbolic Form.* Routledge.
8. Borangaziyev, A. (2025, May 20). *Recognition of the Islamic Emirate of Afghanistan: Between Law, Diplomacy, and Pragmatism*. Retrieved from The Times of Central Asia: https://timesca.com/recognition-of-the-islamic-emirate-of-afghanistan-between-law-diplomacy-and-pragmatism/
9. Chaghaty, F., & Bagramwal, S. (2025). The Geostrategic Role of Afghanistan in Connecting Central Asia with South Asia. *Journal of Social and Political Sciences, 8*(3), 73-98.
10. Dagres, H. (2023, July 7). *Iran and Afghanistan are feuding over the Helmand River: The water wars have no end in sight*. Retrieved from Atlantic Council: https://www.atlanticcouncil.org/blogs/iransource/iran-afghanistan-taliban-water-helmand/
11. Drury, F., & Wilson, T. (2025, July 4). *Russia becomes first state to recognise Afghanistan's Taliban government*. Retrieved from BBC: https://www.bbc.com/news/articles/c78n4wely9do
12. Fazli, A. A., Habib, K. A., Moaz, M. H., & Ayoubi, M. S. (2025). The Political Relations between the Islamic Emirate of Afghanistan and China: Opportunities and Challenges. *Journal of Social and Political Sciences, 8*(1), 52-65.
13. Fedayee, M. J. (2025). Afghanistan's Mining Sector: Opportunities and Challenges for Regional Cooperation. *Strategic Studies Journal, 64*(Winter), 109-150.
14. Fedayee, M. J. (2025). The Islamic Emirate and Multipolar World: Securing National Interests Among the Superpowers. *Strategic Studies Journal, 65*(Spring), 13-66.
15. Hussain, D. E. (2025). Russia Becomes First To Recognise Taliban, Defying Western Consensus. *The Friday Times*.
16. Kaura, V. (2024). Responding to the Taliban’s Diplomacy for International Recognition. *Institute of South Asian Studies* (748), 1-6.
17. Keohane, R. O. (2005). *After hegemony: Cooperation and discord in the world political economy.* Princeton university press.

18. Knipp, K. (2025, June 7). *Afghanistan: Russia recognizes the Taliban government*. Retrieved from Deutsche Welle: https://www.dw.com/en/afghanistan-russia-recognizes-the-taliban-government/a-73162697
19. Krishnan, M. (2025, October 1). *Why India is boosting diplomatic relations with the Taliban*. Retrieved from Deutsche Welle: https://www.dw.com/en/why-india-is-boosting-diplomatic-relations-with-the-taliban/a-71265248
20. Malik, A. (2021). The Islamic Emirate of Afghanistan and the Recognition of Governments under International Law. *Research Society of International Law*, 1-23.
21. Mangu, D. V. (2024). India's Role in Afghanistan's Reconstruction: A Comprehensive Analysis. *International Journal of Trend in Scientific Research and Development (IJTSRD), 8*(4), 325-333.
22. Marston, H. S. (2024). Navigating great power competition: a neoclassical realist view of hedging. *International Relations of the Asia-Pacific, 24*(1), 29–63.
23. Mazzucco, L. J., & Alexander, K. (2023, February 8). *With Eye on Stability, Saudis Shift Role in Afghanistan*. Retrieved from Arab Gulf States Institute: https://agsi.org/analysis/with-eye-on-stability-saudis-shift-role-in-afghanistan/
24. Minatti, W. (2024). Legitimate Governance in International Politics: Towards a Relational Theory of Legitimation. *Review of International Studies, 50*(4), 662–681.
25. Mitra, S. (2024). Intervention & Diplomacy: A Theory of International Legitimacy. *Journal of Research in Humanities and Social Science, 12*(8), 346-353.
26. Montevideo. (1933). *Montevideo Convention on the Rights and Duties of States.*
27. Morgenthau, H. J. (1978). *Politics Among Nations: The Struggle for Power and Peace.* New York: Alfred A. Knopf.
28. Morgenthau, H. J. (2006). *Politics Among Nations: The Struggle for Power and Peace (7th ed.).* McGraw-Hill.
29. Rahimov, S. (2023). Durand Line in The Consideration of Foreign Scientists. *Journal of Social Sciences and Humanities Research Fundamentals, 3*(6), 46-52.

30. Rim, Y. (2021). State continuity in the absence of government: The underlying rationale in international law. *European Journal of International Law, 32*(2), 485-506.
31. Robinson, E. H. (2013). The Distinction Between State and Government. *Geography Compass, 7*(8), 556-566.
32. Sayyed, A. (2023). Recognition in International Law: Theoretical Perspectives and Applications. *Journal of Legal Research and Juridical Sciences, 2*(4), 1135-1142.
33. Shamim, S. (2025, July 4). *Russia recognises the Taliban: Which other countries may follow?* Retrieved from Aljazeera: https://www.aljazeera.com/news/2025/7/4/russia-recognises-the-taliban-which-other-countries-may-follow
34. Sharma, Y. (2025, October 14). *Afghan foreign minister in India: Why New Delhi is embracing Taliban now*. Retrieved from Aljazeera: https://www.aljazeera.com/news/2025/10/14/afghan-foreign-minister-in-india-why-new-delhi-is-embracing-taliban-now
35. Shekhawat, S., & Vyas, P. (2024, September 23). *Recognising the Islamic Emirate of Afghanistan: Questions of international law*. Retrieved from Observer Research Foundation: https://www.orfonline.org/expert-speak/recognising-the-islamic-emirate-of-afghanistan-questions-of-international-law
36. Singh, S. (2025, November 26). *India-Taliban rapprochement: realism amid fractured geopolitics*. Retrieved from Asia Tmies: https://asiatimes.com/2025/11/india-taliban-rapprochement-realism-amid-fractured-geopolitics/
37. Smagin, N. (2025, July 10). *Russia Is the First Country to Recognize Afghanistan's Taliban Government. Why?* Retrieved from Carnegie Russia Eurasia Center: https://carnegieendowment.org/russia-eurasia/politika/2025/07/russia-afghanistan-new-government?lang=en
38. SpecialEurasia, O. U. (2025). Afghanistan: New geopolitical game among US, Russia, and China. SpecialEurasia. *SpecialEurasia*. Retrieved from https://www.specialeurasia.com/2025/04/09/afghanistan-us-russia-china/
39. Thomas, C. (2025). *Afghanistan: Background and U.S. Policy In Brief.* Congressional Research Service Report.
40. Turgunbaeva, A., & Ghiasi, F. (2025, March 11). *The Taliban's Diplomatic and Economic Expansion in Central Asia*. Retrieved from

Central Asia-Caucasus Analyst: https://www.cacianalyst.org/publications/analytical-articles/item/13850-the-new-russia-iran-treaty-implications-for-the-south-caucasus-region.html

41. Visoka, G. (2022). Statehood and Recognition in World Politics: Towards a Critical Research Agenda. *Cooperation and Conflict, 57*(2), 133-151.

42. Wani, A., & Parnerkar, A. (2024, August 12). *Taliban's diplomatic advances in Central Asia*. Retrieved from Observer Research Foundation: https://www.orfonline.org/expert-speak/taliban-s-diplomatic-advances-in-central-asia

43. Weinbaum, M. G. (2021). Afghanistan and the great powers in regional geopolitics, economics and security. In M. G. Weinbaum, *The Great Power Competition Volume 1: Regional Perspectives on Peace and Security* (pp. 413-430). Cham: Springer International Publishing.

44. Yawar, M. E. (2024). Afghanistan's Geopolitical Developments and Foreign Policy. *Law and Humanities Quarterly Reviews, 3*(1), 14-26.

45. Zeng, L. (2020). Status and Application of Good Faith in International Law. In L. Zeng, *Contemporary International Law and China's Peaceful Development* (pp. 65-80). Singapore: Springer.